مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۵/۲۴

# د ادیب سترتوب

د مشهور اردو ژبي ادیب (فیض احمد فیض) لور (منیره هاشمي) لیکي: یو ځل مې لور راته وویل چې د شهرت اړوند څه ډول جمله ولیکم؟

ځواب مې ورکړ: ولیکه چې زما نیکه ډیر مشهور و!
هغې بیا وپوښتل: نیکه جان په ربښتیا ډیر شهرت درلود؟

ومې ویل: هو؛ زه چې وړه وم، پلار جان مې هندوستان ته روان و، ویل یې: څه درته راوړم؟
ومې ویل: ابا! زما لپاره دلیپ کمار (مشهور هنرمند) څخه اتوګراف (افتخاري لاسلیک) راوړه.
هغه وویل: نور هیڅ نه؟

ځواب مې ورکړ: هو؛ نور هیڅ نه!

پلار جان (فیض صیب) هندوستان ته لاړ او بېرته راغی، زه هیله منه وم چې ما ته به یې حتماً د دلیپ کمار اتوګراف راوړی وي؛ خو هغه چوپ و. ومې ویل: دلیپ کمار سره دې ملاقات ونشو؟

ــ وشو.

ــ نو بیا زما اتوګراف چیرې؟

ــ هغه مې را نه وړ.

ما له غمه وویل: ابا! تا دومره معمولي کار هم ونکړ؟
ــ لورې! کله چې دلیپ کمار سره مخ شوم، نو د خبرو سلسله اوږده شوه، په همدې وخت کې مې سوچ وکړ او ستا په خاطر مې د اتوګراف کتابچه را ووېسته چې یو دم دلیپ کمار را څخه زما اتوګراف وغوښت او ما هم له ناچارۍ ورځې ورکړ. اوس ته ووایه چې څنګه مې ترې اتوګراف غوښتی وای؟!

ما په حیرانتیا وپوښتل: ابا جانه! دلیپ کمار تا پیژني!!؟

زه هغه وخت نه پوهېدم چې زما پلار دومره مشهور شخص دی. نو له دې خبرې اندازه ولګوه چې ستا نیکه (فیض صیب) څومره مشهور و.

ماخذ: ریخته ادب

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ